زه الله تعالی ته بېزاري ښايم لدې چې ستاسو څخه دې څوک په خالصې دوستۍ ونیسم، ځکه چې الله تعالی زه په خالصې دوستۍ نیولی یم، لکه څرنګه یې چې ابراهیم په خالصې دوستۍ نیولی دی

له جندب رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه پنځه ورځې مخکې تر واورېدل چې ویل یې: « زه الله تعالی ته بېزاري ښایم لدې چې ستاسو څخه دې څوک په خالصې دوستۍ ونیسم، ځکه چې الله تعالی زه په خالصې دوستۍ نیولی یم، لکه څرنګه یې چې ابراهیم په خالصې دوستۍ نیولی دی او که چېرته ما څوک په خالصې دوستۍ نیولی نو خامخا به مې ابو بکر نیولی و، خبردار اوسئ چې ستاسو نه مخکې خلکو د خپلو پیغمبرانو او نېکانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړ کړي وو، خبردار اوسئ چې له قبرونو څخه جوماتونه جوړ نه کړئ، زه تاسو لدې څخه منع کوم».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په نزد د خپلې مرتبې په اړه خبر ورکوي چې هغه د مینې تر ټولو لوړې مرتبې ته رسېدلې ده، لکه څرنګه چې ابراهیم علیه السلام لاسته راوړې ده، لدې امله یې له الله تعالی پرته له بل خلیل څخه انکار وکړ، ځکه چې زړه یې د الله تعالی له مینې، عظمت او پېژندګلوۍ څخه ډک شوی دی، نو له الله تعالی پرته پکې د بل چا لپاره ځای نشته. او که له مخلوق څخه یې څوک په خالصې دوستۍ نیولای نو هغه به ابوبکر صدیق رضي الله عنه وای. بیا یې په مینه کې له جایز حد څخه د اوړېدو په اړه خبرداری ورکړ، کوم څه چې یهودانو او عیسویانو د خپلو پیغمبرانو او صالحانو له قبرونو سره وکړل تر دې چې شرکي معبودان یې وګرځول او له الله تعالی پرته یې عبادت وشو، او د هغوی پر قبرونو یې جوماتونه او عبادت ځایونه آباد کړل، او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت له دې کار څخه منع کړ چې د هغوی په څېر عمل وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3347